آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۷/۱۹

# د جګړې اوږده وينتيا

زموږ په کلي کې شين فصل نه شته

لار له څوزانو او ازغو ډکه ده

د هر انګړ د دروازې مخې ته

د سرو ازغيو سور لښکر ولاړ دی

زما د اولس تنکي زلمي او پيغلې

ټول عمر وينې دي د جګړې له پاره

وينتيا اوږده شوه د جنګ

او اور يې وغځيد،

غځيږي پسې

داسې څوک نه شته چې جګړه غلې

اورونه مړه کړي

ما د جګړې له دې اوږدې وينتيا نه

د آرامۍ سيمې ته پورې باسي

۲۰۱۰ ـ ۰۵ ـ ۱۵
هيدرسليف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ